باری جمال ۲۰۱۷/۱۱/۱۱

# بیا د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په یاد

په خوا چې به پاچا د هیواد و کم ولایت ته رسمی سفر کاوه، په هغه ولایت کی به د پاچا د ښه راغلاست د پاره دولتی دروازی جوړیدلی، دا دروازی به موقتی او د لرګو ښخه جوړیدی، دروازی به په رنګه ټکرانو پوښلی، په عکسو او شعارو به ښکلی کړی سوی وی پر ځینو دروازو به د رنګارنګ ګلانو، ګل دانی قطار او دروازی بې لا ښکلی کړی وی.

د دروازو په شا و خوا کی به په سل هاو ښاریان او دښوونځی شاګردان په مینه او اخلاص د پاچا د لیدلو په انتظار کی ولاړ وه، د پاچا د سپرلی موټر به په دغو دروازو کی ورو ورو تیریدی او پاچا به د لاس په ښوریدو سره د خلګو احساساتو ته جواب وایه.

د غسی یو سفر چی پاچا و کندهار ته راغلی و زما په یاد دی، دده د هرکلی د پاره ښکلی دولتی دروازی جوړی سوی وی، یوه دروازه د کندهار د پشمینه بافی د فابریکه مخ ته، بله په عیدګاه جاده کی ولایت ته نژدی د کندهار د ښاروالی د خوا بله دروازه د شهیدانو بر چوک د کندهار د هندوانو له خوا او یوه دروازه په هرات دروازه کی ملکی شفاخانی ته نژدی د کندهار د اطاق تجارت له خوا جوړه سوی وه، د شهیدانو د چوک دروازه ډیره ښایسته وه، دغه دروازه علاوه پر دی چی د پاچا په لویو عکسو تزئین سوی وه، د دروازی دواړه خواوی په سرو قالینو فرش وی چه د پاچا موټر پر تیرسی، د تازه ګلانو ګلدانی هم پر دروازه را ګرځی دلی وی، د دروازی پر سر و پاچا ته، د کندهاری هندوانو له خوا د ښه راغلاست غټ شعار ځوړند وو، د پاچا موټر به د ځو حکومتی موټرانو په مینځ کی تیریدی، خلګو به په چک چکو سره د ښه راغلاست نارې وهلی.

د شاه په سفر کی د وزارت دربار ځینی مامورین، د شاهی ارګ پولیس د کابینی یو، دوه وزیران په شورای کی د ولایت وکیل او سناتور او د ولایت خوانین به شامل وو، د عملی او فعلی په برخی کی به، د شاه د کالو او لباس منتظم هم شامل وو خو د شاه د لباس د اوطو او صاف کاری د پاره به خیاط ته ضرورت پیدا کیدی، یو ځل زما قبله ګاه (زما پلار) چی ماهر او یوه خیاط وو، ددی کار د پاره د کندهار د ښاروالی له خوا وټاکل سو.

د پاچا د استوګنی ځای دا ځل د والی کور وو، اکثر اوقات پاچا په عسکری فرقه کی پاته کیدی، زما پلار به هر سهار پر ۷ بجی د والی کور ته ورتلی تر مازپښین پوری به هوری و.

د سهار چای او د غرمی ډوډی، د دربارد آشپز خانی د خوا و ټولو مامورینو او کار گرو ته ورکول کیده، د دو سو نفر و د پاره ډوډی جوړیده یوه ورځ می، پلار زه هم د ځان سره د والی کور ته بوتلم، به دغه ورځ موږ د والی د کور و سراچی ته ورغلو چی په حرم سرای پوری مبنتی وه سراچی غټ غولی درلودی، د سرای په میځ کی دیگونه بار وه، پلار می د څو نفرو سره سلام و علیک وکی، ورسته یی زه په یوه اطاق کی د یوه مشر سړی و څنگ ته کښی نولم، پر هغه یی ز ما سپارښتنه وکړه او ما ته یی وویل چی د میرزا د څنگ څخه و نه ښوری زه یو ساعت ورسته راځم، پلار می د سراچی د لاری و حرمسرای ته ولاړی. چی هلته د پاچا دریشی او کالی اوطو او ترتیب او تنظیم کی.

میرزا ما ته د سهار د چایو د پاره د تناره توده ډوډی او د قیماق چای پیاله مخته کښی ښوول، په غاب (قاب) کی کولچه او کیک هم را ته مخته کړه.

ویل یی، ها، زویه دا ستا دی وی خوره.

د خونی (اطاق) دروازه خلاصه وه، د باندی په سراچه کی فقط لکه واده، د غسی د خلکو بیروبار او خوشحالی می په یادیږی، هر څوک په لوړ آواز گډوه، د دیگدانو څخه دود پور ته کیدی، یوه نه سوم چی تر غرمی پوری وخت څنگه تیر سو، غرمه سوه چی پلار می راغلی، ده غوری وریجی د سالن سره د ځان سره اطاق ته راوړل. زما پلار، میرزا او ما ډوډی په خوند و خوړل، پلار می پر ډوډی دا خبره وکړه، وریجی چی داسی ښه خوند کوی په ژیړو غوړو کی پخ سوی دی خو د پاچا ډوډی په ډا لډا (نباتی) غوړو کی پخوی وی، وای چی ژړغوړی د صحت د پاره ښه نه دی، ما ته دا عجبه خبره ښکاره سوه ځکه چی ژیړ غوړی گران وه، نباتی غوړی چا نه کاره ول.

د غر می ډوډی ورسته د مازیښین چای راغلی، شنی چای د هیل او نقل سره د هرچا مخ ته پرتی وی. مازدیگر مهال مامورین او کارگرو کورو ته تلل. زما پلار ته ي د ورځی د یو نیم سل افغانیو په حدودو کی معاش ورکوی که د شاه دغه سفری دربار د تیرو شاهانو د سفر له دربار سره مقایسه سی نو ویلای سو چی ظاهر شاه ډیر کم مصرف او اقتصادی پاچا وو.

په دغه سفر کی یوه ورځ د کندهار مشاهیر د پاچا حضور ته د معرفی د پاره حاضر سوی وه، کله چی نوبت د کندهارو مشهور یونانی طبیب ته ورسیدی نو هغه د (دلالا بیر بل)، به نامه معرفی سو، مگر پاچا هغه ته د (حکیم بیر بل) خطاب وکی.

ظاهر شاه تر شاهی شان و شوکت ډیر و ساده او بی تکلفه ژوند ته ترجیع ورکول، د ده په گفتار او کردار کی درنښت او یوه له ورایه ښکاره کیده، یو ځل ز ما په یاد دی زه د پوهنتون په (پالندویانو) کی وم چی د پاچا د سالگری په خاطر په پگرامیو کی د بزکشی لوبه اجرا کیدل، زه د کمری سره هلته ولاړم ما وکولا سوای د شاهی کمپ په یوه برخه کی چی غټه خیمه وه ځای ونیسم بیله دی چی څوک دی زما مخه ونیسی او یا پوښتنه را څخه وکی چی ته څوک یی؟ دلته څه کوی؟ کله چی د شاه موټر و کمپ ته راورسیدی زه به تقریباً د لسو مترو په فاصله لیری ولاړ وم، ما په کمره څو عکسه واخیستل، ملیکه (حمیرا) نه وه ورسره ملگری، یوازی لونی او ذوم یی سردار ولی ورسره وو، شاه ملکی دریشی اغوستی وه، البته چی د کورنی نور اعضا به ور سره خو پیزندوی څوک نه وه. د بزکشی لوبه

یی تر پای وکتل، په کابل کی ډیرو خلګو پاچا لیدی، چی یوازی به په موټر کی ګرځیدی، کلکله به هلته د لیری څخه به د شاهی پولیسو لنډراور، موټر پسی روان وو. ظاهر شاه هیڅکله د یو مجلل پاچا په څیر ژوند ونه کی او نه یی د بده او شان او شوکت خوښ وو، فقیر مشرب او متواضع شخصیت وو.



آخری ځل چی زما شاه په یاد دی هغه د چهل ستون په قصر کی دغیری منسلیکو هیوادو د خارجه وزارتو نو د معینانو لویه میلمستیا وه، زه د نیپال د خارجه وزارت د معین میلمه پال وم، "موسی شفیق" صدراعظم وو، پاچا تر ډوډی ورسته څو دقیقی پس د صدراعظم په ملګرتیا د قصر څخه ووتی، د قصر په دروازه کی (شفیق) صاحب ته څو لنډی خبری وکړی، موسی شفیق د احترام په څیر د شاه لاس ښکل کی پاچا په موټر کی سپور سو او صدراعظم بیر ته د ننه د میلمنو سره یو ځای سو.

ما ته ددی خاطر ولیکل لکه خوب داسی ښکاری، مګر زموږ هیواد په رشتیا د سولی او صفا طلایی دوره تیره کړیده.